نعمان دوست

۲۰۲۳/۰۷/۰۹

# مساپر ته نظم

ښه پوهیږم زړه دې تنګ دی مساپره
خپل قسمت سره دې جنګ دی مساپره
ناهیلي دې دواړو سترګو ځنې ښاخي
د امید زړګی دې زنګ دی مساپره

***

راته ښکاري نن بیګاه دې بیا ژړلي
په رخسار دې تودو اوښکو لارې کړي
له ډیر قهره دې بار بار شونډې چیچلي
خپل نصیب ته دې له درده ښیرې کړي

***

چې موبایل کې دې رنځوره مور غږیږي
ستا د زړه له څړیکو یو الله خبریږي
خیال کې لاړ شې: هسې نه مورکۍ مې مړه شي
ګوتې سستې شي موبایل ترې وغورځیږي

***

ماشومان چې په پارکونو کې لوبیږي
تاته خپل کوچنی زوی او ورور یادیږي
د هغوی په محرومیت دې زړه دردیږي
دغه درد دې په رګونو کې بهیږي

***

چې مستانه او خندانه ځوانان وینې
ښځوي په خپلو خلکو د زړه وینې
بیوسی ترې د ځوانی نشه لوټلي
نه خبر دې له مستی او نه له مینې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

***

پارک کې ناست يې پر څوکۍ په چورت کې تللی
د وطن ياد دې ارام له زړه لوټلی
هره خوا وي خنداګانې د زلميانو
يو د تا د زړه بازار وي نړيدلی

***

کړکۍ پرانيزې هر خوا رڼا رڼا وي
سمندر کې د بيړيو تماشا وي
خلک ګرځي ټولوي له ژوند خوندونه
دا خو موږ يو چې ژړا وي او ژړا وي

***

د خليج سپيره ريګزار دې جنت جوړ کړ
د ګاونډ دې هر يو (سيټهـ*) په راحت موړ کړ
چا دې قدر د تياکو هيڅ ونکړ
بې رخۍ د زمانې دې زړګی سوړ کړ

***

ستا حسينه او ښايسته ځوانې ورو- ورو ځي
څه په غم ، څه په کړاو څه په سلګو ځي
(صنوبرکاکا) رښتيا خبره کړې:
"د مفلس حُسن په يو موټی چنو ځي"

***

عجيبه مو د وطن د مور قسمت دی
چې زوی لوی شي، نو له غيرې په الوت دی
څوک د ګيډې، څوک د سر غم وي اخيستی
چې ياديږي مې همدغه يو حالت دی

***

ربه! دا وطن مو کور کړې د خوښيو
بيرته ډک يې کړې، په خپلو ښو بچيو
که يوه دعاء د ( دوست) چيرته قبليږي
غوڅ کړې لاس چې يې وي نيت د بدبختيو

د چنګاښ ۴مه، ۱۴۰۲
نعمان دوست
--------
*خان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ